شريف الله دوست (سرواني)
۲۰۱۲/۰۱/۳۱

# چينايي ژبه د پښتو په غيږ کي

**( 普通话\Pashto )**
**(لومړی برخه)**

له تيرو پنځو کلونو راهيسي دچين هيواد سره سودا ګريز تګ راتګ لرم دوه کاله مخکي مي فکر وکړ چي دمادي ګټي تر څنګ معنوي ګټه هم هيواد ته يو سم .
په ړغيزه سوداګريزه ژبه يی تر يوځايه بلد وم ومي غوښتل په انځور ليک او دليک په ژبه يی هم پوه سم مخکي کلونو کي لا په چين کي دژبو دزده کړي دومره خصوصي مرکزونه هم نه وه خو په داورستيو کي زيات سول ، کله چي مي دوه کاله مخکي دچينايي ژبي زدکړه په علمي توګه پيل کړه په ټولګی کي مو تر ديرشو زياتو کسانو زدکړه کول چي په دی کي تورپوستي ، عربان ، روسان،جرمنيان ، ايرانيان او داسي نور را سره وو ، په دوی کي مي لاکله کله پريو روسي ټولګيوال چي (ويکتور) نوميدی په افغانستان کي ددوی دماتي په هکله ټوکي هم کولی او خندل به يی . ددرس په پيل کي يوڅه وار خطا وم چي ، په يوه مياشت دي د دوه زره افغانيو انډول ( چينايي يون) ور کړه چي په څه ډول به دا پيچلی ليک زده کوم ؟!، ښوونکی مو ښځينه وه (يدي) نوميدل ، کله چي يی درسي پلان وړاندي کړ په دی ډول و چي يو وار به په اول کتاب کي چينايي ژبه پونيټيک ډول ښوول کيږي په دوهم کتاب کي به د ژبي تر څنګ ليک هم تدريس کيږي ،ددرسي پلان له مخي يو کتاب په دوو مياشتو کي تدريس کيده ، درس مو پيل کړډير ښه مي زده کيده ښوونکی هم په ډير ښه ميتود درس راکاوه ، لس ورځي وروسته يو ورځ ښوونکی ټولګی ته راننوتل او له ورايه راته کتل چي لږ را نيژدی سول په مستعارنامه يی راته وويل چي (جان) تردرس وروسته پنځو دقيقودپاره کار درسره لرم ،هم ويل هوکی ، تر درس ترخلاصيدو وروسته اداری ته ورسره ورسره ولاړم او راته ويی ويل : (( جان زه چي د کوم توري او لغات تلفظ کوم ته يی کټ مټ هغه ډول کوی تاثير په څه کي دی ؟ په لس پنځلس کاله کي چي مي هرڅومره بهرنيان ليدلي چي چينايي ژبه يی ښه پوره زده کړی وي خو بيا هم په وينګ کي ستونزه لري. )) سمدستي مي پام سو چي سړيه دادي دپښتو ژبي برکت دی او ورته ومي ويل چي استاد زه خو دومره لايق هم نه يم په اصل کي موږ يو بډايه ژبه لرو چي پښتو نوميږي، زموږ د ژبي تر نورو ژبو ډير دي هر ډول ړغيز توري لرو چي هغه په نورو ژبو کي نسته ،بيا مي ورته د پښتو ژبي خپل اته توري( ټ،ډ،ړ،ځ،څ،ږ،ښ،ڼ) ورته انځوراوتلفظ کړل که څه هم نوموړی دپښتو په تورو نه پوهيدل خو څوواره يی په ما ياد سوي توري تکرار کړل په اخر کي يی راته وويل چي تاسو بختورياست چي داسي ښکلی اوبډايه ژبه لرئ او ډير يی تشويق او وهڅولم چي تاسو ډيرژر او ډيره ښه چينايي ژبه زده کولای سی چي اوس خومي په ټوکو کي چينايي بولي ،ددی خاطری ديادولو څخه موخه پښتون کهول ته زيری ورکول دی چي دپښتو ژبي غيږ دومره پراخه ده چي دنړۍ ټولي ژبي په خپلي غيږ کي نيولای ،نو داپه ټينګه را ته جوته سوه چي دنړۍ پرمخ به داسي ژبه نه وي چي پښتانه دي يی په زده کړه کي ستونزه ولري ؛ داچي دنړۍ په شاوخوا څو زره ژبو کي پښتو اته ځلويښتم ځای لري بی انصافي ده پردی بايد د پوهانو اومشرانو له خوا غور وسي ، رابه سو موضوع ته دتيرو دوو کلونو راهيسي مي پر چينايي ژبه سربيره د انځور ليک سره هم څه نا څه بلدتيا پيداکړه نو دلته يوڅه هغه کلمات چي په پښتو کي کاريږي په چينا يي کي هم کټ مټ کاريږي اوبل پښتو هغه اته سوچه توري اوړغونه بيله (ډ اوڼ ) په چينايي ژبه کي هم کاريږي يوازي بيلګي را وړم : **چينايي ژبه:中国话=zhong guo hua= ځونګ ګوخوا)** چينايي ژبه دړغونو،هيجاوو اوخجونوژبه ده(Chinese is a tonal language) چي پريوډول کلمی دفشار په واريديدو سره يی پوره مفهوم تغير کوي دبيلګي په توګه که د (ما ای=mai=买) کلمه په دريم ړغ کي د رانيولوپه مانا ده خوداغه کلمه په څلورم ړغ کي د خرڅولو په مانا ده . دچينايي ژبي بنسټ پر پنځو اصلي ړغونو ولاړدی چي څلور يی منظم او يو يی غيري منظم دی چي په بيلګو کي راوړل يی موضوع اوږدوي . **چينايي ليک** : دنړۍ د نورو ژبو پر خلاف چينايي ژبه الفبآ نه لري ځکه نو دوی دليک کښلو لپاره دځانګړو نښو او کرښو څخه کار اخلي او هغه اساسي کرښي اته دي اوبياورپسي زياتي دي، چينايان خپل ليک ته ( ځه ماو= zimu=字母)وايي. **چينايي ليک دود:** دچينايي ليک کښلو لپاره دری اصله موجود دي چي مهم يی له لوړ څخه کښته ، له چپه څخه راسته خواته او له دننه څخه دباندي ليکل کيږي خو چينايي ژبه کي دخپل پيدايښت څخه بيا تر اوسه چندان توپير نه دی راغلی يوازي د شلمي زيږدي پيړۍ په لومړيو کي يو ډله پاڅيده او د يوی ملي ژبي لپاره يی د زرګونو نښو پرځای ځيني حدود وټاکل چي دا کار دچين په پير کي ( کارولين بيلوندن) او ( مارايلوين) وکړ چي دچين معياري ژبه د(پوتونګ خوا putonghua=普通话 ) په نامه سره ياديږي چي په سرليک کي هم ورته ايشاره سوی ده. **چينايي قاموس ليکنه:** چين د يو لرغوني فرهنګ درلودونکی هيواد


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

دی دقاموس لیکني مخينه يی شاوخوا دوه زره کاله ته رسيږي د قاموس ليکنه په چين کي تر دوهمي زيږدي (ميلادي) پيړی وروسته رواج سوه .**پښتو اوچينايي**: دلته موږ دپښتو او چينايي ژبي پر نيژديوالي او ليريوالي نه ږغيږو چي دا دواړي ژبي په هندوارياپي کور کي سره نيژدی والی لري او  که يا هغه د ژبپوهانو کار دی، زه دلته يوازي د پښتو اوچينايي ترمنځ دږغونو اوکلماتو ورته والی په ډاګه کړم چي ماته دچينايي ژبي دزده کړي پرمهال په مخه راځي، دابيلګي ډيري زياتي دي چي دلته يی يوازي دنمونی په ډول راوړو. **هغه پښتو کلمی چي په چينايي کي هم کټ مټ** کاريږي:

| چينايي لغات(ويي) | | چينايي پونيټکس | تلفظ (وينګ ) | مانا په پښتو کي |
|---|---|---|---|---|
| 庶 | yao | ياو | ديوه شمير | ( ۱ ) يو |
| 篦子 | bi zi | پيزه | پزه | پزه |
| 摔 | shuai | ښوی | غوړ | په پښتوکي دنارينه لپاره |
| 拆 | chai | څي | څيرل | دتوکريا..څيرل |
| 茶 | cha | څا | چای | چای |
| | | ځوو | ځو | دتګ په مانا |
| 走 | zou | | | |
| 爬 | pa | پا | خا پوړي | خاپوړي |
| 摔倒 | shuai dao | ښوي تاو | ښويدل | پرځمکه ښويدل |

ښويدل

دلته د هغوچينايي کلماتو بيلګي راوړو چي په هغه کي د پښتو د شپږو تورو، ټ، ړ، څ، ځ، ږ، ښ، ږغونه کټ مټ را غلي دي ، پاته دي نه وي چي پښتو د ( ډ اوڼ ) ږغونه مي تر اوسه نه دي پکښي او ريدلي .

| **چينايي لغات(ويي) (وينګ)** | **پشتوتوری** | **چينايي (پونيټکس) مانا** | | **تلفظ** |
|---|---|---|---|---|
| | Nan ren | نان ږن | ږ | نارينه |
| 男人 小孩 | xiao hair | شياؤ هړ | ړ | کوچنی/ماشوم |
| 护照 | Huzhao | خوځاو | ځ | پاسپورټ |
| 春天 | chuntian | څون تين | څ | پسرلی |
| 葡萄 | pu tao | پوټاو | ټ | انګور |
| 书 | shu | ښوو | ښ | کتاب |

داسي بی شميره بيلګي نوري هم سته چي قاموسونه په ډک دي.
ش. د (سرواني ) دچين هيواد د ( يوو ) ښار


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

**چينايي ژبه د پښتو په غيږ کي**(دوهمه برخه)

**( 普通话\Pashto )**

**"چينايي په سفرکي:**

چين د ډيرو وګړو په درلودلوسره دنړۍ سره په توپير ډيره نادره ژبه او انځورليک لري، چينايي ژبه د سيني-تبيتي ژبو دکورنۍ څخه يوبډايه ژبه ده چي شاوخوا د ټولي نړۍ يوپر پنځمه برخه وګړي خبري په کوي.

چينايان خپله ژبه چينايي نه بلکي ځونګ ون(**zhong wen= 中文**) بولي او خپل هيواد ته ځونګو( 中国= **zhongguo**) وايي ، خپله ملي، رسمي اومعياري ژبه د پوتونګ خوا (**putong hua=普通话**) په نامه بولي چي په سرليک کي هم اشاره ورته سوى ده ، دى ته په فرنګي (E) ژبه ماندرين وايي او په چين کي شاوخوا ۱۰۰۰ زر ميليونه وګړي په ږغيږي .۱

**په چينايي ژبه کي دخج او ږغونو ارزښت:**

چينايي ژبه دخجونو او صوتي فشارونو ژبه ده ، بل توپير يې دنړۍ دژبو سره دادى چي دا د نښو او انځورونو څخه جوړه ژبه ده اوچينايان زموږ په څير لفبا نه لري په لومړۍ برخه کي مو وويل چي د چينايي ژبي بنسټ ځلور ډوله ږغونه جوړوي او ټول انځور ليک يې پر ( ۸ ) اتو اساسي کرښو ولاړ دى نور ټول يې فرعي او مشتقونه دي .۲

**د چينايي ژبي ليک پر ډوله دى:**

۱- لرغونى يا کلاسيک ډول

۲ – نوى او ساده سوى ډول

لومړى هغه ډول ليک دى چي له زرګونو کلونو راپه دى خوا ددى ژبي دليکلو لپاره کاريده چي تر اوسه هم دچين په ځينو ځايونو ، تايوان ، هنګ کانګ، اوله هيواده څخه بهر چينايانو کي دود دى .

دوهم هغه ډول ساده سوى اواسانه سوى ليک دى چي دچين داوسني حکومت موسس (ماځدوم) يې بنسټ کښيښود .

دپخواني ليک د ليکلو نښي او علايم له ( ۷۰۰۰۰ ) اويا زرو څخه تر ( ۸۰۰۰۰ ) اتيا زرو پوري وى خوپه اسانه سوي ليک کي دا کچه ( ۱۰۰۰۰ ) لس زره نښو او کلماتو ته را کښته سوه .د چينايي ليک په زده کولو کي په خپله د چينايانو اوهمداډول بهرنيانولپاره اسانتيا رامنځ ته سوه،

اوس که يوچينايي يا بهرنى وغواړي چي چينايي ژبه اوليک پوره زده کړي نو اړ دى چي دا لس زره کرکټره به زده کوي .۳

نن دچينايي ژبي دزده کړي لپاره فونيټيک او لاتين الفبى هم کاريږي چي په چينايي ژبه ورته ( **pin yin=拼音** )وايي او دچينايي ژبي دزده کړي لومړى مرحله هم بهرنيان له همدى ځايه څخه پيلوي .

**د چينايي ژبي ځانګي**: په چين کي لهجى (ګړدودونه) بى شميره دي ، پر ګړدودونو سربيره دمانا اومفهوم له مخي ژبني توپيرونو چينايي ژبه پر دى ځانګو ويشلى ده :

۱ – پوتونګ خوا (ماندرين )

۲ – کانتوني

۳ – وو (دشنګهاى ژبه)

٤ – که جيا (خه کا)

٥ – مين دونګ

٦ – جين يو

۷ – پوښيان

۸ – خوى جو

۹ – مين جو

۱۰ – ښيانګ

۱۱- مين يى

۱۲- مين نان

۱۳- پينګ خوا اونوري کوچنى ژبي او لهجى

---



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادښت: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولۍ

په اخر کي دچينايي ژبي زده کول زموږ لپاره يو ښه فرصت دی دا ژبه په نړی کي يوه سوداګريزه ، تاريخي اوفرهنګي بډايه اوخپلواکه ژبه ده.
چيناناپان په دی پوهيږي چي ژبه يی سخته ده که يی بهرنی وررسره وايي دوی ډير خوشاله کيږي اوملګرتيا درسره کوي.
اوس به راسو د (چينايي په سفرکي) دلړی يوه کړی به دپښتو سوي تلفظ (وينګ) سره دچينايي ژبي دزده کړي درنو مينه والو ته وړاندي کړو په دی لړی کي هڅه سوی ده چي ټول هغه ورځني مسايل چي يو مسافر په چين کي ورسره مخ کيږي لکه :په هوايي ډګر،روغتون ،هوټل ،بازار ،سابه ماركيټ ،خوړنځای اونور اړين موضوعات په لومړي وار په نظر کي نيول سوي دي په دوهمه پلا به ټول اړين کلمات په غونډلو (جملو) کي راوړل سي

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | **فاعلي ضميرونه** | | |
| چينايي انځورليک | فونيتکس | وينګ(تلفظ) | | پښتومانا |
| 我 | Wo | وه | | زه |
| 你 | Ni | ني | | ته |
| 他 | Ta | تا | | هغه\هغی |
| 我们 | Women | وه مين | | موږ |
| 您 | Nin | نين | | تاسو |
| 她们 | Tamen | تامين | | دوی |
| | | | | |
| | | | | |
| چينايي انځورليک | فونيتکس | وينګ (تلفظ) | | پښتومانا |
| 爸爸 | Baba | پاپا | | پلار |
| 妈妈 | Mama | ماما | | مور |
| 爷爷 | Yeye | يی يی | | نيکه |
| 奶奶 | Nai nai | نای نای | | انا |
| 叔叔 | Shu shu | سوسو | | اکا |
| 阿姨 | Ayi | ايي | | امه(عمه) |
| 哥哥 | Gege | ګه ګه | | مشروررور |
| 姐姐 | Jiejie | جی جی | | مشره خور |
| 弟弟 | Didi | دي دي | | کوچنی ورور |
| 妹妹 | Meimei | مي مي | | کوچنی خور |
| 朋友 | Pengyou | پنګ يو | | ملګری |
| 双胞胎 | Shuangbaotai | سونګ بوتای | | جمليان |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |
| | | | | |


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

| پښتو مانا | | تلفظ(وينگ) | فونيټکس | چينايي انځورليک |
|---|---|---|---|---|
| **هوايي ډګر**<br>飞机场 | | | | |
| هوايي ډګر | | فی جي څانګ | Feijichang | 飞机场 |
| الوتکه | | فی جي | Feiji | 飞机 |
| پرواز | | خانګ پن | Hangban | 航班 |
| پاسپورټ | | خوځاو | Huzhao | 护照 |
| بورډينګ پاس(الوتکي ته دختلوپاڼه) | | تينګ جي کا | Dengjika | 登机卡 |
| ټکټ | | جي پياؤ | Jipiao | 机票 |
| وتل پاڼه | | ږوجين کا | Rujingka | 入境卡 |
| پوليس | | جيګ څا | Jingcha | 警察 |
| تړل | | جي هاؤ | Jihao | 极好 |
| کمربند(ملاوستونی) | | ان چون تای | Anquandai | 安全带 |
| دمخ کشکي ميز | | څان ځو | Canzhuo | 餐桌 |
| مجله | | ځا ځږ | Zazhi | 杂志 |
| دالوتکي کړکی | | څونګ کؤ | Chuangkou | 窗口 |
| څوکۍ(سيټ) | | وی ځه | Weizi | 位置 |
| بس موټر | | باښه | Bashi | 巴士 |
| چټک\ژر | | کوای | Kuai | 快 |
| ناوخته | | وان دين | Wan dian | 晚点 |
| ښايي- کيدای سي | | که ننګ | Keneng | 可能 |
| پروخت | | ځنګ دين | Zhengdian | 正点 |
| رسيدل | | دوتا | Daoda | 到达 |
| ټکسي | | چي څه\ که څه | Chuzu zu qi che | 出租汽车 |
| اورګاډی | | خوڅه | Huoche | 火车 |
| وتل(خروج) | | څوکو | Chu kou | 出口 |
| ننوتل(دخول) | | رؤکو | Rukou | 入口 |
| روانيدل | | څوفا | Chufa | 出发 |

**چينايي ژبه د پښتو په غيږ کي (دريیمه برخه)**
**( 普通话\Pashto**

چينايي په سفر کي :
دتير په څير په دی ليکنه کي هم هڅه سوی چي لومړی دچين دهيواد په اړه يوڅه معلومات ستاسو مخ ته کښيږدو وروسته په ترتيب سره چينايي په پښتو هغه ورځني لغاتونه چي تاسو د چين هيواد ته په سفر کي ورسره مخ کيږی وړاندي کيږي .

دچين هيواد:
پلازمينه ( بيجينګ )
رسمي ژبه ( ماندرين = پوتون خوا )
حکومتي دول ( جمهوري سوسياليستي )


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ولسمشر ( هوجينګ تاؤ )
لومړی وزیر ( ونجیا باؤ )
دینونه ( کنفسیوس ، بودايي ، تاؤیزم ، اسلام ، ترسیايي ) .
مساحت ( ۹۵۹٦۰۰۰ کیلومتره مربع ) .
وګړ شمیر ( ۱،۳ میلیارده )
نژاد ( ژړ پوست )
CNY پولي واحد ( یون = رنیمبي =
CN ) انټرنیټي کود)
ټلیفوني کود ( ۰۰۸٦ )
په نړۍ کي د مسحت له نظره ، دریم ، څلورم .
لوی ښارونه یی شنګهای ، بیجینګ (پکن) ، ګانزو ، شین زن .
نړیوالي راډیو یی په کال ۱۹٤۱ م د ډسمبر پر دریيمه په خپرونو پیل کړی اوس مهال شاوخوا په نړۍ کي په ٤۳ ژبو خپروني کوي .
دچین لرغونی تمدن د ژړسیند پر غاړه چي دچین په شمالي دښته کي بهیږي راټوکیدلی ، او شاوخوا شپږ زره کلن مروڅي حکومت پکښي تیر سوی دی .

ویپانګه:

| | |
|---|---|
| | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **په هوټل کي** | | | | |
| پښتو مانا | **دری** | وینګ(تلفظ ) | فونټکس | چینايي انځورلیک |
| هوټل | هوتل | بینګ ون | Binguan | 宾馆 |
| یونفري کوټه | اطاق یک نفری | دان ږن جین | Danrenjian | 单人间 |
| معیاري کوټه | اطاق معیاری | پیاوځن جین | Biaozhunjian | 标准间 |
| غټه کوټه | اطاق کلان | تاوفنګ | Taofang | 套房 |
| تشناب | تشناب | څه سو | Cesuo | 厕所 |
| ورځ | روز | تین | tian | 天 |
| په څودی؟ | به چند است؟ | دوښاوچین | Duoshao qian? | 多少钱 |
| کوټه | اطاق | فن جین | fangjian | 房间 |
| الیشول | تغیردادن | خوان | huan | 换 |
| سهاروختي | صبح | ځاوښن | zaoshang | 早上 |
| بجی | بجه | دین | dian | 点 |
| دسهارناری | چای صبح | ځوځن | zaocan | 早餐 |
| خالي | خالی | کونګ | kong | 空 |
| نیم | نسب | پان | ban | 半 |
| **چینايي رستورانت** | رستورانت چینایی | ځونګ څانتین | Zhong canting | 中餐厅 |
| | | | | |
| | | | | |
| **健康与医院 (شفاخانه روغتیا او روغتون)** | | | | |
| **روغتیا او روغتون** | صحت و شفاخانه | **جین کن یویي یون** | Jian kang yu yi yuan | **健康与** |


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **医院** | | | | |
| 医生 | yisheng | يي ښنګ | داكتر | ډاكتر |
| 护士 | Hushi | خوښه | نرس | نرس |
| 病人 | bingren | بينګ ږن | مريض | ناروغ |
| 发烧 | Fashao | فاښو | بخار،تب | تبه |
| 头痛 | Tou tong | توتونګ | درد سر | سردرد |
| 体温表 | Ti wen biao | تي ون پياو | رماتيزم | ترماميتر |
| 听诊器 | Ting zhen qi | تين ځن چي | ساتيسكوپ | ساتيسكوپ |
| 血压计 | Xue ya ji | شويې جي | آله فشار | ديپشارآله |
| 药方 | yaofang | ياوفنګ | نسكه | نسخه |
| 感冒 | ganmao | ګن ماو | زوكام | زوكام |
| 咳嗽 | Ke sou | كه سو | سرفه | ټوخی |
| 创伤 | Chuang shsng | څونګ ښنګ | زخم | ټپ |
| 腿断 | tuiduan | توی دون | لنګ | په پښه ګوډ |
| 手断 | shouduan | ښودون | دست شكسته | لاس ماتي |
| 救护车 | Jiu hu che | جيوخوڅه | امبولانس | امبولانس |
| 手术 | Shou shu | ښوښو | عمليات | عمليات |
| 体检台 | Tij ian tai | تي جين تای | بسترمريض | دناروغ كټ |
| 药 | yao | ياو | دوا | درمل |
| 胶囊 | Jiao nang | جيونانګ | كپسول | كپسول |
| 药片 | Yao pian | ياوپين | تابليت | ټابليټ |
| 胶布 | Jiao bu | جياپو | پلستر | ګوټک پلستر |
| 注射液 | Zhu she ye | څوښه يي | پيچكاری | پيچكاري |
| 软膏 | Ruan gao | ږن ګاو | مرهم | ملهم |
| 注射器 | Zhu she qi | څوښه چي | سيرنج | سيرنج(ستن) |
| 脱脂棉 | Tuo zhi mian | توځه مين | پخته | پنبه |
| 拐杖 | Guai zhang | ګوای ځنګ | نيزه | لكړه |
| 轮椅 | Lun yi | لون يي | بايسكل مريض | دناروغ بايسكل |
| 牙医 | Yayi | يايي | داكتر دندان | دغاښوډاكتر |
| 口罩 | Kou zhao | كوځاو | ماسک | ماسک(خولپوټی) |
| **候诊室** | Hou zhen shi | خوځن ښه | انتظارګاه | انتظارځای |
| 热水带 | Reshui dai | ږه ښوی تای | مشكولا مساج | دټاكورمشكولا |
| | | | | |
| | | | | |
| **دسمدستي پيښوخبرتيا** | | | | |
| شميره | | ۱۱۹ | ایطفایه | اوروژنه |
| شميره | | ۱۱۰ | پوليس | پوليس |
| شميره | | ۱۲۲ | ترافيک | ترافيک |
| شميره | | ۹۹۹=۱۲۰ | تصادم | **دسمدستي پيښي مركز** |
| شميره | | ۱۱٤ | دتليفوني شميری پوښتنه | **بيجنګ(پكنګ)** |
| شميره | | ۱۲۱۲۱ | دهوادحالاتوورواندوينه | **بيجنګ(پكنګ)** |



افغان جرمن آنلاين په درښت ناسو همكاری ته رابولي. په دغه پته له مورږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليكني د ليكنيزی بني پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليرلو مخكې په ځير و لولـئ

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شميره | | ۱۲۱۱۷ | دوخت خرګندول | **بيجنګ(پکنګ)** |
| شميره | | ۱۱۱۸٥ | EMS | **بيجنګ(پکنګ)** |
| شميره | | ٦۸۳۷۳۳۹۹=٦۱۰۳ | كرايي موټر | **بيجنګ(پکنګ)** |
| شميره | | ۹٦٢٥۸۱ | دالوتكي ټكټ | **بيجنګ(پکنګ)** |
| شميره | | ۹٦٢٥۸۰ | دپرواز پوښتنه | **بيجنګ(پکنګ)** |
| شميره | | ٥۱۰۱۹۹۹۹ | د اورګاډي پوښتنه | **بيجنګ(پکنګ)** |
| | | | | |
| | | | | |

**چينايي ژبه د پښتو په غيږ کي** (ځلورمه برخه)

**( 普通话\Pashto )**

چينايي په سفر کي :

د چين نوم د تاريخ په اوږدو کي:

= ځونګو ) وايي چي( دخواجه رشيدالدين فضل الله ٦٤٨ (=zhongguo中国چينايان خپل هيواد ته چين نه بلکه هجري ) په تاريخ چين کي د( مرکزي هيواد) په مانا راغلی دی ځکه لرغوني چينايان په دی عقيده وه چي ددوی هيواد د نړۍ زړه او مرکز دی خو په حقيقت کي دی مرکزيت

جغرافيايي دلايل له ځان سره نه لرل او يوازي يی فرهنګي او تمدني بڼه درلوده .

د اسلامي دوری په زړو متونو کي لکه ( حدودالعالم = ۳۷۲ هجري ) دچين نوم ( چين او چينستان ) راغلی دی په لرغونو عربي متونو کي ( صين = صينستان = صين استان ) راغلی دی اوس يی هم عرب ( صين ) بولي ځيني څيړونکي وايي د چين نوم د چين د چين =سين )په نامه سلطنتي کورنۍ څخه(۲۲۱ مخکي تر ميلاد ) اخيستل سوی دی .) 秦 ==Qin

ماچين : دا نوم د لوی چين په مانا دی چي منظور يی ورڅخه سويلي (جنوبي ) چين دی.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | **رنګونه颜色 yan se** | | | |
| chinese | Pin yin | وينګ | | پښتو مانا |
| 白色 | Bai se | پاي سه | | سپين |
| 黑色 | Hei se | خي سه | | تور |
| 咖啡色 | Ka fei se | کافي سه | | بور+کافي رنګ |
| 灰色 | Hui se | خوی سه | | سميټي |
| 粉红色 | Feng hon se | فنګ خون سه | | ګلابي |
| 红色 | Hon se | خون سه | | سور |
| 梅红 | Mei hon se | مي خون سه | | اتشي |
| 玫瑰红 | Mei gui hon | مي ګوی خون | | ګلابي سور |
| 桃红 | Tao hon | تاوخون | | خته ګلابي |
| 桔红 | Ju hon | جوخون | | نارنجي |
| 枣红 | Zao hon | ځاوخون | | جګري |
| 紫红 | Zhi hon | ځي خون | | تورسور |
| 黄色 | Huang se | خونګ سه | | ژړ |
| 绿色 | Lu se | ليوسه | | زرغون |



افغان جرمن آنلاين په دربښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 蓝色 | Lan se | لان سه | | شين |
| 金色 | Jin se | جين سه | | طلائي |
| 银色 | Yin se | يين سه | | نيقلي رنګ |
| 棕色 | Zhon se | څون سه | | خام بور |
| 彩色 | Cai se | څای سه | | رنګه |
| | | | | |

| 词汇<br>پښتو په چينايي (د الف برخه) ويپانګه | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 词汇 | Ci hui | څه خوی | لغاتنامه | ويپانګه |
| 开始 | Kai shi | کای ښه | شروع | پيل |
| 初步的 | Chu bu de | څوپوده | | ابتکار |
| 联合 | Lian he | لين خه | | اتحاد |
| 自动的 | Zi dong de | څه دون ده | | اتوماتيک |
| 八 | ba | پا | | اته(٨) |
| 二十八 | Er shi ba | ار ښه پا | | اته ويشت(٢٨) |
| 八十 | Ba shi | پاښه | | اتيا(٨٠) |
| 估计评定 | Gu ji ping ding | ګو جي پين دين | | اټکل |
| 租约 | Zu yue | څو يوی | | اجاره |
| 许可 | Xu ke | شوی که | | اجازه |
| 爱社交的 | Ai she jiao de | ای ښه جياو ده | | اجتماعي |
| 货 | huo | خو | | اجناس |
| 抗议 | Kang yi | کن يي | | احتجاج |
| 尊敬 | Zun jing | څون جين | | احترام |
| 需要 | Xu yao | شو ياو | | احتياج،اړتيا |
| 预防措施 | Yu fang cuo shi | يو فن څو ښه | | احتياط |
| 感觉 | Gan jue | ګان جوی | | احساس |
| 发明 | Fa ming | فا مين | | اختراع |
| 不同 | Bu tong | پو تون | | اختلاف |
| 遗嘱 | Yi zhu | يي څوو | | اختيار |
| 道德的 | Dao de de | تاو د ده | | اخلاق |

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ